# افغانستان
# د ۲۰۱۴ کال شپږ میاشتنی راپور
# په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه




© REUTERS/Zohra Bensemra

دافغانستان لپاره دملګرو ملتونومرستندویه پلاوی

دبشري حقونو لپاره دملګرو ملتونوعالی کمیشنری دفتر

کابل افغانستان
جولای، ۲۰۱٤




منبع: یوناما ، جی آی اس ، جنوری ۲۰۱۲

# افغانستان
# د ۲۰۱۴ کال شپږ میاشتنی راپور
# په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو ساتنه

دبشری حقونو لپاره دملګرو ملتونوعالی کمیشنری دفتر

دافغانستان لپاره دملګرو ملتونومرستندویه پلاوی

کابل افغانستان

جولای، ۲۰۱٤

په لومړي مخ تصویر: د یوه دوه کلن ماشوم عکس چې د ۲۰۱۴ کال د مارچ په ۲۰ نیټه د سرینا پر هوټل باندې په یو برید کې ټپي شو. څلور برید کوونکې پر ملکي خلکو باندې چې د دی هوټل په رستورانټ کی د ماښام ډوډی خوړلو په حال کې وو ډزی پیل کړل ، چې په نتیجه کې ۱۰ تنه ملکي خلک (۳ ښځې ، ۵ نارینه او ۲ ماشومان) ووژل شول او ۵ تنه نور ملکیان (۴ نارینه او ۱ ماشوم) ټپیان شول. طالبانو د دی برید مسؤولیت په غاړه واخیستل. دغه عکس د ۲۰۱۴ کال د مارچ په ۲۷ نیټه د ایمرجنسی په روغتون کی اخیستل شوی دی. (زهره بیسمرا ، رویترز)

**”ملکي خلک په دوامداره توګه د خشونت بار په خپلو اوږو وړی. ډیرو هڅو ته اړتیا ده څو ملکي خلک د شخړې له زیان څخه وساتل شي او د هغو کسانو د حساب ورکونې څخه ډاډ حاصل شي چې په قصدي ډول او بې له توپیره ملکي خلک وژني.“**

یان کوبیش ، په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د سرمنشي ځانګړی استازی ، د ۲۰۱۴ کال جولای

## صلاحيت/واک

د ۲۰۱۴ کال دغه شپږ میاشتنۍ راپور په افغانستان کې د ملګرو ملتونو د مرستندویه پلاوي (یوناما) د بشري حقونو د څانګې له خوا په وسله واله جګړه کې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه چمتوشوې دي چې د ۲۰۱۴ کال د جنورۍ د لومړۍ نیټې څخه د جون تر دیرشمې نیټې پورې موده رانغاړي.

دغه راپور د یوناما د هغه صلاحیت له مخې چمتو شوی دی چې د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا له خوا د ۲۱۴۵ /(۲۰۱۴) پریکړه لیک په اساس ورته ورکړې شوې څو د ملکي وګړو وضعیت وڅاري ، د دوي د ساتنې په موخه هڅې همغږې کړي ، حساب ورکوونه تقویه کړي او د اساسي ازادیو او بشري حقونو ، چې د افغانستان اساسي قانون او د نړیوالو تړونونو ، چې افغانستان یې غړیتوب لري ،برخه ده ، په بشپړ ډول پلي کیدو کې مرسته وکړي ، په ځانګړي ډول د ښځو د ټولو بشري حقونو څخه د برخمن کیدلو په اړه هڅې وکړي.

د امنت د شورا ۲۱۴۵ /(۲۰۱۴) پریکړه لیک ،په افغانستان کې د وسله والو شخړو په ترڅ کې د ملکي وګړو د وضعت او په ځانګړې توګه د ملکي وګړو د مرګ ژوبلې په اړوند رواني څارنې او راپورورکونې ته اهمیت ورکوي .

یوناما یو لړ فعالیتونه تر سره کوي چې هدف یې په ملکي وګړو د جګړې د اغیزو راکمول دي لکه: په خپلواکه او بې پلوه ډول د داسې پیښو څارنه چې د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې لامل ګرځي ، د وسله والو ښکېلو څخه د اغیزمن شویو ملکي وګړو د ساتنې په اړه ، د ملاتړکونکو فعالیتونو او نورو نوښتونو ترسره کول چې په ښکېلو کې په ښکېلي خواوې د بشرپالنې او بشري حقونو د نړیوالو قوانینو او د افغانستان د اساسي قانون د احکامو رعایت کولو ته رابولي.

دا راپور د بشری حقونو لپاره د ملګرو ملتونو د عالي کمشنرۍ دفتر ( او سی ایچ ار) له خوا بیا کتل شوی او د د دی دفتر په تخنیکی مرستو چمتو شوی.

# د مطالبو فهرست


**اصطلاح ګانې** i

**حقوقي چوکاټ** vi

په نښته کې د ښکېلو خواوو قانوني مسؤولیتونه vi

**میتودولوژي** i

**لنډیز** ۱

**سپارښتنې** ۷

## اصطلاح ګانې

**هوايي برید:** له الوتکې څخه ویشتونکي مهمات چې په هغو کې نږدې هوايي ملاتړ (د الوتکې لخوا برید) او نږدې جنګي برید چې د چورلکې په مرسته ترسره کیږي ، راځي. همدارنګه په هوايې بریدونو کې هغه هوايې بریدونه هم شامل دي چې بې پیلوټه جنګي الوتکې یا ډرون یې تر سره کوي.

**ABP:** افغان سرحدي پولیس

**ALP:** افغان سیمه ایز پولیس

**ANA:** افغان ملي اردو

**ANP:** افغان ملي پولیس

**ANSF:** افغان ملي امنیتي ځواکونه ، یوه ټولیزه اصطلاح ده ، چې افغان سرحدي پولیس ، ملي اردو ، ملي پولیس او د ملي امنیت اداره په کې شاملیږي.

**دولت ضد عناصر :** په دې ډله کې ټول هغه اشخاص او ډلې راځي چې اوس مهال د افغانستان د دولت او نړیوالو نظامي ځواکونو پر ضد په وسله واله جګړه کې ښکیل دي. هغه وګړي چې د طالبانو په نامه پیژندل شوي او هغه اشخاص اوبیلا بیل ډلی چې په جګړه فعاله برخه اخلي ، او تر مختلفو نومونو لاندې لکه د حقاني شبکه ، حزب اسلامي د ازبکستان اسلامي حرکت ، د اسلامي جهاد اتحاد ، لشکر طیبه او جیش محمد او نورې ملیشې او وسله والې ډلې چې سیاسي ، ایدولوژیکي او اقتصادي اهداف تعقیبوي یا نوري جرایم پیشه ډلې چې په جګړه کې د یوې ښکېلې خوا په استازیوب ګډون کوي ، په دغوعناصرو کې راځي.

**وسلوالې ډلې :** نا دولتي وسلوالې ډلي چې شخړو کې ښکېلې وي او په ځرګند ډول د دو لت څخه بېلې وي چې د جوړښت پر اساس د ملیشو څخه واخله تر یاغي جنايي مجرمو ډلو پوري رسیږي. نادولتي وسلوالي ډلي دا وړتیا لري چې د وسلې او ځواک په کارولو سره سیاسي ، ایدیالوژیکي یا اقتصادي اهداف تر لاسه کړي ؛ خو د دولت د رسمي نظامي چوکاټ ، دولتي ایتلاف یا د دولت د خپلمنځیو ارګانونو برخه نه وي او د فعالیت سیمه یې د دولت د ولکې د باندې وي. وسلواله ډلې کیداي شي د دولت د رسمي ولکي او کنترول د سیمې نه د باندې وي خو کیداي شي چې د کوربه یا نورو هیوادونو مستقیم یا غیر مستقیم ملاتړ ولري. .دغه تعریف عبارت له لاندې ډلو څخه دي خو یوازې تر دوي محدودې نه د ی: مخالف یاغي ډلې ، سیمه یزې ملېشي (چی پکی توکمیزی ، قومی یا په بل اساس) ، یاغیان ، ترهګر ، ګوریلا او نور مدني دفاعي ځواکونه او نیمه نظامي ډلې (چې په ځرګند ډول د دولت په ولکه کې نه وي).[1]

د یوناما په دی راپور کې بیان شوي دولت ضد عناصرو غېر دولتي وسلوالې ډلي بولي لیکن د دولت سره د مخالفت په اساس یې توپیر کاندي.

AXO: (Abandoned Explosive Ordnance) پریښودل شوي چاودیدونکي توکي ، هغه چاودیدونکي توکي ته ویل کیږی چی د وسله والو جګړو په جریان کی کارول شوی نه وی او د یوی ښکیلې ډلې له خوا په ساحه کی پریښوړل شوی وی یه داسی حال کی چی دغه توکي د دی ډلې له کنټرول څخه بهر وی. دغه پریښودل شوی چاودیدونکې توکي کیدای شی فعال فیوز ولری او چاودلو لپاره اماده وی. (د مشخصو او متعارفو وسلو په اړه کنوانسیون ، ۵مه پروتوکول).

**د ملکي خلکو تلفات /مرګ ژوبله:** وژل شوی او ټپی شوی ملکي خلک ، په لاندینی دوو ډولو ویشل کیدای شی:

- **مستقیم تلفات**: دا هغه تلفات دي چې په مستقیم ډول د وسله والې جګړې له امله راپیدا کیږي. د هغه تلفاتو په شمول چې د افغان او نړیواله پوځی ځواکونو د نظامي عملیاتو لکه هوايي بریدونه ، د افغان او نړیوال ځواکونو د ځان ژغورنې په موخه ، د نیولو او تلاشی ، د یاغیانو یا ترهګری پر ضد عملیاتو تر سره کیدو په ترڅ کې رامنځ ته

[1] د ملګرو ملتونو د وسله والو ډلو سره د بشري مرستو اړوند خبرې اترې . د ګیرارد مک او مینویل بیسلر د فعالینو لپاره لارښود ، د ملګرو ملتونو لپاره د بشري چارو د همغږۍ دفتر ،نیویارک ، جنوي ۲۰۰۶. د وسله والو ډلو اوصاف ۲,۳ برخه وګورئ.

کیږي. همدارنګه  په دې کې هغه تلفات هم شامليږي چې د نا دولتي وسلوالو ډلو دفعاليتونو له امله  لکه په هدفي وژنې ، تعبيه شوي چاوديدونکي توکي او یا له حکومت پلوه ځواکونو سره د مستقیمي ښکلتیا په پایله کې رامنځته کیږي.

- **غیرمستقیم/ نور تلفات:** هغه تلفات چې په غیر مستقیم ډول له وسله والې جګړې څخه راپیدا کیږي لکه د جنګې پاتې شویو چاوديدونکي توکو ، په محبسونو کې مړینه ، د کافي طبي شرایطو د نشتوالي له امله مړينې چې د نظامي عملیاتو په ترڅ کې پیښیږي او په داسې ځایونو کې چې طبي پاملرنې ته د لاس رسي مخنیوي شوي وي او یا موجود نه وي. په دې تلفاتو کې هغه مړینه هم شامل ده چې د مرګانیو پیښو مسؤل لوري پکې په پوره اطمینان سره نه شي په ګوته کیداي لکه هغه مرګ ژوبله چې د ډزو د تبادلې په پایله کې رامنځ ته کیږي.

**ماشومان:** د ماشوم د حقونو د کنوانسیون له مخې ماشوم داسې یوه شخص په حیث تعریف شوی چې عمر یې له ۱۸ کلونو څخه کم وي (۱۷ کلن ماشوم دی). د دې تر څنګ د روم د نړیوالي جزايي محکمې اساسنامې له مخې چې د افغانستان دولت هم په ۲۰۰۳ کې تصویب کړي ، د ۱۵ کلونو څخه کم عمر ماشومان په دولتي عسکري لیکو کې او یا غیر دولتي ډلو کې شاملول ا و ګمارل ، چې په فعال ډول په جنګ کې برخه واخلي جنګي جرم ګڼل کیږي د ۸ مادې (۲) (ب)(xxvi ) او ۸ مادې (۲) (ت) (vii) وګورئ.

**ملکي/تر محافظت لاندې چنګیالی:** د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې "ملکي وګړي " هغه افراد دي چې هغه د نظامي/نیمه نظامي ځواکونو غړي نه وي یا په جنګ کې د یوې خوا په منظمو وسله والو ډلو کې غړيتوب ونه لري او  هم د یوی پراخي یاغیتوب کې برخه ونه اوسی[٢]. ملکي وګړي  په صورت کی د بریدونو په وړاندې د خوندیتوب تضمین له لاسه ورکوي کله چې دوي په نښتو کې کې نیغ په نیغه برخه واخلي. د ملکي وګړو  په څېر د  جګړې څخه لویدلی کس (ژوبل شوي ، ناروغ ، د ویجاړې شوي کښتۍ عمله ، توقیف شوي یا اوهم تسلیم شوي) یا هغه څوک چې د وسله والو ځواکونو په طبي یا مذهبي پرسونل پورې اړه ولري ،  دوی هم دبرید څخه د خوندیتوب حق لري.

COMISAF **کام ایساف:** افغانستان کې د نړیوال امنیتي مرستندویه ځواکونو قوماندان.

**د EOF پیښې ( د عکس العمل ښودلو پیښې):** چې د ځواک د ساتنې پیښې ورته هم وایي. په دې کې داسې حالات شامل دي چې کله ملکي وګړي  نظامي قطارونو ته د نږدې کیدو یا له هغو څخه د مخکې کیدو په وخت کې د نظامي پرسونل اخطارونو ته پاملرنه و نه کړي او یا د تلاشۍ په پوستو کې لارښوونو ته توجه و نه کړي او تر برید لاندې راشي.

ایساف یې بیا داسی تعریفوي: دا یو دفاعي حالت دی چې له وړاندې تهدید په ګوته کیږي او تهدید سره سم دفاعي  عکس العمل د ځواکونو د خوندی ساتنی لپاره اخستل کیږي.[٣]

ERW: له جګړې څخه چاوديدونکي پاتې شوني چې ناچاودي توکي  ،او پرېښودل شوي چاودېدونکي توکي هم یادیږي.

**ځمکنی جګړی/نښتې:** په ځمکنیو جګړو کې دغه ښتې شامل دی: د جګړی د ښکیلو خواوو تر منځ ځمکنی متحرک عملیات ، د لیری واټن څخه برید ، د ډزو تبادله او وسله واله نښتې. په ځمکنیو نښتو کی د بریدونو او عملیاتو په وخت کی د سپکو او درندو وسلو او یا د هاوانونو راکټونو کارول هم شامل دی.

**IDP:** داخلي بې ځایه شوي وګړي

**IED (ځای پر ځای شوي چاوديدونکي توکي):** یو بم چې د دوديزې نظامي طريقې په خلاف په نورو طریقو جوړیږي او کارول کېږي. نوموړي چاودېدونکي توکي کیداي شي د ځانمرګي بم په شکل استعمال شي لکه په ځان پورې تړلې ځاي پر ځاي شوي چاوديدونکي توکي (PB-IED)، له لېرې څخه کنترول شوي ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي (RC-IEDs)، په موټر کې ځاي پر ځاي شوي چاوديدونکي توکي (VB-IEDs)، په موټر کې ځاي پر ځاي شوي چاوديدونکي توکي او انتحاري

[٢] د ژنیو دریمی کنوانسون ۴ (۱) (۶) مادی ته راجع کیږی: د یو نه اشغال شوی قلمرو  ساکنان چی په خپل سر د دښمن د ځپلو لپاره وسله پورته کوی بی له چی د دی وخت پیدا کړی چی د یوې منظمې وسله والې ډلې سره یو ځای شی ، په هغه شرط چی د وسلی د ګرځولو په وخت کی د جګړی قانون او دود دستور رعایت کړی.

[٣] د۲۰۱۴ کال د جنوری په ۳۱ مه د ایساف په مرکز کې د یوناما مصاحبه .

شخص (SV-IED)، د کنټرول شوي تار له لارې ځای پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي (CW-IEDs)، د قرباني د تماس سره فعالیدونکی ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي (VO-IEDs) او د فشار په ذریعه فعالیدونکي ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي (PP-IEDs).

**د قرباني د تماس سره فعالیدونکی ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکي توکي (VO-IEDs):** دغه چاودیدونکی توکی په هغه وخت کی فعاله کیږی کله چې یوه شخص او یا موټر د ده بټاقی سویچ ته فشار ورکړی، دغه سوچ ممکن فشاری وی یا د فشار د خوشې کیدو سیستم وی او یا هم د یو تاری تلی په څیر یا کوم بل سیستم په توګه و چې په هر صورت کی د چاودنې سبب ګرځی.[٤]

**د دستور په ذریعه فعالیدنوکی ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي (CO-IEDs):** هغه رادیویی یاد لېرې څخه کنټرول شوي ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي (ریموټ کنټرول بمونه) (RC-IEDs) دی چې د یوه لیری واټن څخه کار کوی چې استفاده کوونکی کولای شی د مخی نه ځای پر ځای شوی دغه توکی ته په یو مناسب وخت کی چاودنه ورکړی او د یو متحرک هدف په نږدی کیدو سره تر برید لاندی راولی.[٥] په دغه ډله کی لاندینی چاودیدونکی توکی شامل دی: د استفاده کوونکی په ذریعه فعالیدنونکی چاودیدونکی توکی، لکه د سړک غاړی بمونه او د یا اشیاو یا حیواناتو باندی ځای پر ځای شوی چاودیدونکی توکی لکه موټر، بایسکل، موټر سایکل او خر.

**مقناطیسی ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي (CO-IEDs):** د پورتنی ډلی (ریموټ کنټرول بمونو) یوه فرعی شاخه ده چې د مقناطیس سره یو نښلولو کیږی. په افغانستان کی د دغو توکو د استفادی د څرنګوالی پر اساس، لکه تر هدف لاندی شخص په موټر کی ځاي پرځاي کول، یوناما دغه توکی په بیلابیل شکل سره ثبت کوی.

**نوری چاودېدونکي توکي:** په دی کتګوری کې د تاری بمونه او ساعتی بمونه (د ۲۰۰۹ څخه راهیسی، یوناما د دی چاودیدونکو توکو له امله ډیر کم شمیر پیښی ثبت کړی دی)، او هغه چاودیدونکی توکی شامل دی چی د پټاقی سویچ یی نه مالومیږی.

**ځان مرګی ځاي پرځاي شوي چاودیدونکي توکي (ځان مرګی/انتحاری بریدونه):** د ځاي پرځاي شوي چاودیدونکو توکو په هکله د مالوماتو برسیره، یوناما د ځان مرګو او پیچلو عملیاتو له امله د ملکي خلکو د مرګ ژوبلی پیښې ثبت کړی دی.د دغو پیښو په ارقامو کې د یو ځان مرګی برید کوونکی یا ډریور له خوا د چاودیدونکو توکو نه ډک موټر چاودل او یا د و یو انتحاری په واسطه د واسکټ یا کمر بند چاودل شامل دی.

**د ځاي پر ځاي شویو چاودیدنکو توکو ستحصال:** د ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو استحصال د هغو مالوماتو او موادو د تشخیص، راټولول، پروسس او مالوماتو خپرولو پروسه ده چې د ځاي پر ځاي شویو چاویدنکو توکو د پیښې له ځاي څخه راټول شوي دي تر څو د عمل وړ استخباراتي معلومات تر لاسه شي، د ځاي پرځاي شویو چاودېدونکو توکو ضد پروسیجرونه او میتودونه غښتلي او د اورپکو منابع کمزوري او د دوی د عدلي تعقیب ملاتړ وشي. په دي کې د ځاي پر ځاي شویو چاودېدونکو توکو ساتنه، د مختلفو برخو تشخیصونه د تخنیکي، عدلي طب او بایومتریک ازمویني او تحلیل راځي چې د واک لرونکي کارپوهانو له لوري تر سره کېږي. د چاودیدونکو توکو استحصال د اغیزمن او دوامداره چاودیدونکو پر ضد د اقداماتو یوه اساسي برخه ده.

**پېښې:** هغه پیښې دي چې په وسله والو جګړو کې ملکي وګړو ته تلفات اړوي. د یوناما په راپورونو کې هغه تلفات نه دي شامل چې د جنایي پېښو په پایله کې پېښېږي.

**IHL:** د بشر پالنې نړیوال قانون

**نړیوال نظامي ځواکونه:** په دې ځواکونو کې ټول بهرني عسکر شامليږي چې د ایساف او په افغانستان کې د امریکا د ځواکونو (د ازادۍ د پایښت د عملیاتو په شمول) یوه برخه وي او د ایساف د قوماندان COMISAF تر امر لاندې کار کوي. دغه اصطلاح همدا راز پر ځانګړی عملیاتی ځواکونو او نور بهرنی استخباراتی او امنیتی ځواکونو باندې هم د تطبیق وړ ده.

---

[٤] پورتنی مرجع.

[٥] د سپکو وسلو سروی، ځای پر ځای شوی چاودیدونکی توکی، لسم فصل، چاودیدونکی تلی، ۲۲۰-۲۲۱ پاراګرافونه.

**ټپونه:** د جسماني سختو ژوبلو یا ټپي کیدنو مختلف ډولونه په کې شاملیږي. د یوناما د بشری حقونو په ډیټابیس کې د جسماني ژوبلې درجه نه ده شامله. اروایي یا روحي صدمه یا دماغي جړک پیښې په ژوبلو کې شاملې نه دي.

**ایساف (په افغانستان کې مرستندویه امنیتي سوله ساتي ځواکونه):** ایساف د ملګرو ملتونو د منشور د VII فصل له مخې د سولې د پلي کولو ماموریت یا دنده لري. ایساف د ملګرو ملتونو د امنیت د شورا په امر او صلاحیت ځای په ځای کېږي. د ۲۰۰۳ کال په اګست کې د افغانستان د حکومت او ملګرو ملتونو په غوښتنه د ناټو سازمان د ایساف مشرتابه په غاړه واخیست. د ایساف قواوې اوس مهال د ۱۵ جنوری ۲۰۱۴ پورې ۵۷،۰۰۴ تنه سرتیري لري ، چې له ۴۹ هیوادونو څخه راغلي او د مرکزي دفتر کابل سربیره په شپږو سیمه ییزو برخو کې تنظیم شوي دي . د ۲۰۰۸ د نوومبر څخه د ایساف قوماندان په افغانستان کې د امریکایي ځواکونو قوماندان هم دي ، که څه هم د مراتبو سلسله بېله پاتې شوې. د امنیت د شورا ۲۱۲۰ ( ۲۰۱۳ ) شمیره پریکړه لیک د ایساف په اړه مخکیني پریکړه لیکونه تایدوي او د ۲۰۱۴ د دسمبر تر ۳۱ نېټې پورې د نورو ۱۴ میاشتو لپاره د ایساف ماموریت غزوي.

**MOI:** د کورنیو چارو وزارت

**ناټو (NATO):** د شمالي اتلانتیک د تړون سازمان. د ناټو د سازمان غړي هیوادونه د ایساف اساسي مرستندویه هیوادونه دي. ایساف وګورئ.

**NDS:** د ملي امنیت ریاست یا د افغانستان دولتي استخباراتی اداره

**NGO:** نادولتي سازمان/اداره

**دولت پلوه ځواکونه:** افغان دولتي ځواکونه او ټول هغه ځواکونه او ډلي دي چې په نظامي او نیمه نظامي عملیاتو یا د بغاوت ضد عملیاتو کې برخه اخلي او په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د افغانستان د دولت د قوماندی او اداري لاندې دي. په دې ځواکونو کې افغان ملي اردو ، افغان ملي پولیس ، افغان سرحدي پولیس ، د ملي امنیت په شمول نور سیمه ییز امنیتي ځواکونه هم شامل دي. دغه اصطلاح نړیوال نظامي ځواکونه او نور خارجي استخبارات او امنیتي ځواکونه هم رانغاړي.

افغان ملي امنیتي ځواکونه عبارت دی له : ملي اردو ، چې د دفاع وزارت ته راپور ورکوي اوپه رسمي ډول د افغانستان په وسلواله ځواکونو شامل شوي دي ؛ افغان سیمه ییز پولیس د فعالیت له مخي په ریښتیني بڼه د وسلواله ځواکونو برخه تشکیلوي او په قانوني ډول د ملکي خلکو په څیر خوندیتوب نه لري ؛ او افغان ملي پولیس ، افغان یونیفارم لرونکی پولیس او افغان سرحدی پولیس د قانون پلي کونکي اداري دي چې په رسمي ډول د وسلواله ځواکونه برخه نه ده او کورنیو چارو وزارت ته مسؤول دي.

د قانون پلي کونکي ادارو غړی هغه مهال خوندیتوب د لاسه ورکوي چې د وسلواله ځواکونو دنده اجرا کړي او په جګړه کې نیغ په نیغه برخه واخلي. دوي د خپل ځان د دفاع پر وخت د ځواک کارولو له امله د ملکي په څیر خوندیتوب له لاسه نه ورکوي.

د دولت پلوه ځواکونو ډله بندی ممکن په هغو ډلو کی شامل شی چی په وسله والو جګړو کی شکیل دی. کله چی دغه ډلی د په موثر ډول د یوی ښکیلی خوا د وسله والی ډلی یوه برخه جوړوی ، د مثال په توګه کله چی امنیتی عملیات یا د یاغیتوب پرضد عملیات چی د یوه دولتی چاوراکی لکه د دامنیی قوماندان ، د ملی امنیت افسر او یا ولسوال د غیررسمی امر لاندی ترسره شی.

همدارنګه په دغه اصطلاح کی نړیوال ځواکونه او نور بهرنی استخباراتی او امنیتی ځواکونه هم شامل دی.

**SOP:** معیاري عملیاتي کړنلاره

**په نښه شوي یا هدفمند وژنې**: هغه وژنې دي چې په ارادي ، د مخه سنجول شوي او قصدي ډول د دولت او یا د دولت کارکونکو چې د قانون په چوکاټ کې دنده لري ، او یا په وسلواله شخړه کې د منظمو وسلوالو ډلو لخوا د یو په نښه شوي شخص پر ضد وژونکي ځواک وکاروي ، او هغه شخص د مرتکبینو د فزیکي ساتنې او نظارت لاندي نه وي. سربیره پردي چې

په ډېرو وختونو کې په نښه شوي وژنه د ژوند د حق څخه سرغړونه ده خو په استثنايي ډول په وسلواله شخړه کې ځيني وخت کيداې شي مشروعيت ولري په دی شرط چی د بشرپالنی د قانون او د بشری حقونو د قانون اړوندو مقرراتو ته درناوی وشي.[٦]

UNDSS: د ملګرو مليتونو د مصؤونيت او امنيت څانګه

**UNAMA:** په افغانستان کې د ملګرو ملتونو مرستندويه پلاوی

**UNHCR:** د کډوالو لپاره د ملګرو ملتونو عالي کمشنری

USSOF:  د متحده ايالاتو د ځانګړو عملياتو ځواکونه

**UXO:** نا چاودي توکي

**جنګي جرائم**: د نړيوال بشردوستانه قانون د ميثاقونواو عرفی قانون څخه جدی سرغړونو ته جنګي جرايم وويل کيږي. جنګي  د جرمونو د نړوالې محکمې منشور جنګي جرايم داسی تعريفوي ، د نورو تر څنګه ، په نړيواله شخړه کې د تطبق او پلی کيدونکو قوانينو او دودونو څخه جدی سرغړونه " او "  د هغه قوانينو او دودونو جدي سر غړونه چې د غير نړيوالې وسلوالې شخړی پر مهال د پلی کيدو وړوی".جنګي جرمونه[٧] عبارت دی  د جنيوا کنوينسيون ددريم مشترک بند څخه جدی سرغړونه  ، د شخص او د هغه د ژوند حق  څخه سرغړونه  ،او په ځانګړی ډول د وژلو ټول ډولونه ، د معيوبولو ، بی رحمانه سلوک او شکنجه ، د شخص په  وقار حرمت تجاوز ،په ځانګړی ډول تحقير او ټيټ ګڼلو سلوک ، يرغمل کول او د قانوني محکمی پرته چې ټول عدلي تضمينونه له ځان سره ولری او په عمومي ډول هغه تضمين چې جزلاينفک او منل شوي وي د  داسی محکمې د مخکينۍ پريکړې پرته د  سزاګانو صدور او يا  د اعدامونو سزاګانو پلی کول د دی جرمونو زمره کې راځي .

[٦] د ملګرو ملتونو عمومي اسامبلي ، د بشري حقونو شورا څوارلسمي ناستې د آجنډا دريم ټکي ، او د محکمي څخه بهر په خپل سر اعدامونو لپاره د ځانګړي راپورټر رپورټ ، او د فليپ آلستون مکمل رپورټ د "د هدفي وژنو څېړنه" تر عنوان لاندي وګورئ. A/HRC/14/24/Add.6 د ٢٠١٠ کال د مۍ مياشت وګورئ.

[٧] د جرمونو د نړيوالې محکمي منشور ، ٨ بند( حواله په دويم جلد. II فصل. ۴۴ ، #٣ ) نړيوال عرفي قانون چې په نړيواله او غير نړيواله وسلواله شخړه کې د پلی کيدو وړ دی د هغی له مخي د نړيوال بشر دوستانه قانون څخه جدي سرغړونو جنګي جرايم بلل کيږي. د هيوادونو اجراات د نړيوال عرفی قانون نورمونه تشکيلوي. ۱۵۶ مه قاعده د جنګي جرايمو تعريف. آی سی آر سی ، نړيوال عرفی بشردوستانه قانون ، ١جلد ، جين ماری هينکرتز او لويز ډوزوالډ- بيک ، (CU P/ICRC, Cambridge {ICRC Study} (2005. دغه مرجع وګورئ: (2)Additional Protocol II, article 13 ، دغه مرجع هم وګورئ: د نړيوال جرمونو محکمي د روم منشور ، Article 8 (2) (c) (i) of the Elements of Crime, Rome Statute of the International Criminal Court. جنګي جرمونه عبارت دی د غير نړيواله وسلواله شخړی کې پلی کيدونکو د جنګي قوانينو او عرفونو سرغړونې ته ويل کيږي چې لومړی مبنی يې د جنيوا د ۱۹۴۹ څلور کنوانسيونونو دريم عمومي بند ،او ورسره د ۱۹۷۷ ضم دويم پروتوکول ، د ۱۹۹۹ الحاقي پروتوکول د ۱۹۵۴ هاګ کنوانسون چې په وسلواله جګړه کې د  کلتوري ميراث خوندی ساتنی په اړه دی ، د ۱۹۸۹ د ماشوم د حقونوکنوانسيون ، د ۱۹۹۴ د ملګرو ملتونو او نښلول شوی پرسونل دمصؤنيت کنوانسيون ، د نړيواله محکمي د رواندا او پخواني يوګوسلاويا لپاره منشور ، او د سريلون لپاره د ځانګړې محکمې منشور). د جرمونو د نړوالې محکمي د روم منشور لاندی جنګي جرائم وګورئ او دهغی منابع د نړواله بشردوستانه قانون موازنه  ، ابی سی ار سی د نړوال بشر دوستانه قانون لپاره مشاورتی خدمتونه.

## حقوقي چوکاټ

د دې راپور لپاره حقوقي چوکاټ کې د بشرى حقونو نړيوال قانون ، د بشر پالنى نړيوال قانون ، نړيوال جزايي قانون ، ملي قوانين او د افغانستان لپاره د ملگرو ملتونو د امنيت شورا پريکړه ليکونه د منابع په ډول کارول شوي .[۸] په دى ټولو منابعو کې د افغانستان په وسلواله جگړه کې د ملکي خلکو د خوندي ساتني اړوند ټول مکلفيتونه شامل دى. دغه مکلفتيونه په دې راتلونکې برخه کې په وضاحت سره بيان شوي.

### په نښته کې د ښکېلو خواوو قانوني مسؤوليتونه

يوناما په دې باور ده چې په افغانستان کې وسله واله جگړه يوه غيرې نړيواله وسله واله جگړه ده چې د افغانستان د دولت ، او د هغه د وسله وال فوځ چې د نړيوالو نظامي ځواکونو ملاتړ ورسره دي (په دې راپور کې او په افغانستان کې "دولت پلوه" ځواکونه بلل شوي دي) او د غير دولتي وسله والو ډلو (په دې راپور او په افغانستان کې "د دولت ضد عناصر بلل شوي " ترمنځ روانه ده).

د جگړې ټولى ښکيلى خواوى — افغان وسله وال ځواکونه ، نړيوال پوځى ځواکونه او غيردولتي وسله والې ډلې — د نړيوال قانون له مخى په واضح ډول دا مکلفيت لرى چې د ملکي خلکو ساتنه وکړى.

د دولت پلوه ځواکونو او د دولت ضد عناصرو د تعريف لپاره د دى راپور د اصطلاح گانى برخې ته مراجعه وکړئ.

### (i) د بشرپالنې د نړيوال قانون له مخې مکلفيتونه

افغانستان د ژنيو د ۱۹۴۹ کال د څلورگونو تړونونو او د ۱۹۷۷[۹] کال د ژنيو د مل دويم پروتوکول غړى هيواد دى ، دغه تړونونه او دوهم پروتوکول په غير نړيواله جگړه کې د ملکي وگړو ساتنه کوي. دغه پروتوکول د ملکي وگړو په وړاندې او د هغو اجناسو په ضد بريدونه منع کوي چې د ملکي وگړو د بقاء لپاره ضروري گڼل کيږي.

د ۱۹۴۹ کال د ژنيو د څلور گونو تړونونو گډه دريمه ماده حد اقل معيارونه ټاکي چې دولتي او غير دولتي وسله والې ډلې يې بايد په داخلي وسله واله نښته کې مراعات کړي. دريم عمومي بند د ملکي خلکو وژل[۱۰] ،تاوتريخوالي ، د محکمې پرته اعدام ، شکنجه ، معيوبول او د تاوتريخوالى داسى نورې کړنې صراحتا منع کړي دى.[۱۱] دغه کړنې هر وخت ، هر ځاى هر څنگه چې وي منع دي.

- د ۱۹۴۹ کال د ژنيو د څلورگونو تړونونو او د مل پروتوکولونو څو اصول د نړيوال دوديز قانون[۱۲] برخه گرځيدلې ده او تر ټولو زيات اړونده اصول چې افغان نظامي ځواکونه ، نړيوال نظامي ځواکونه او غير دولتي وسله والې ډلې يې د داخلي وسله والې نښتې د ښکيلو خواوو په څير بايد مراعات کړي ، دا دي:

---

[۸] د ملگرو ملتونو د امنيت شورا ۲۱۴۵ ( ۲۰۱۴ ) پريکړه ليک د ټولو ښکېلو لورو مسؤليتونه او مکليفيتونه په گوته کوي چې د نړيوال قانون " په شمول د نړيوال بشردوستانه قانون ، د بشرى حقونو قانون سره په تطابق کې وى او ټول هغه مناسب اقدامات دى تر سره شي چې د ملکي خلکو خوندى ساتنه ډاډمنه کړاى شي ."

[۹] دويم الحاقي پروتوکول ۱۹۷۷ د افغانستان له خوا د ۲۰۰۹ کال د نومبر په ۱۰ تصويب شو ، دغه پروتوکول د ۲۰۰۹ کال د دسمبر په ۲۴ نافد شو.

[۱۰] د وژلو په اړه د جنگي جرايمو چې د روم منشور کې د جرمونو نړيوالې محکمې تعريف کړى يوناما د ملکي خلکو د قصدى وژنې اصطلاح کاروى چې عبارت له هدفي وژنو ، چې هغه عمل بانوى چې جنگي جرم گڼل کداى شي او دهغه وژنې د عمل څخه توپير وکړاى شي چې د يو کس په لاس تر سره شى چې د وسلواله جگړى د قرنني د باندي وي. ورته اصطلاح گانې لکه هدفي وژنې ، د محکمې پرته وژنې ، اختطاف او وژنې ، قصدى وژنې ځنې وختونه کارول کيږي چې هغه په جنگ کې د ښکېلو خواو له لورى د ملکي خلکو هغه قصدى وژنې بيان کړي چې د افغانستان په داخلي وسلواله شخړي په قرنه کې راپيښيږى .

[۱۱] د ۱۹۴۹ د اگست ۱۲ د جنوا کنوانسون دريم مشترک بند ، د داخلي وسلواله شخړى پرمهال د پلى کدو وړ دى. هغه مهال چې شخړه نړيواله شخړى اوصاف ونه لري او د غړي هيواد په سيمه کې رامنځ ته شي ، نود جگړى د ښکېلې خواو هر لورې دى کم تر کم لاندى مادو احترام باندى مکلف دى: (۱) هغه کس چې په جگړه کې فعاله برخه نه اخلي په شمول د هغه وسلواله ځواکونو چې خپله وسله کيږدي او يا نور د ناروغي ، ټپونو ، توقف ، يا نورو لاملونو له کبله نه جنگيږي خو په ټولو حالاتو کې ورسره د تبعض پرته چې د نسل ، رنگ ، مذهب ، عقدى ، جنس ، زيږيدنې او جانداد او يا بل کوم معيار وي انساني چلند کيږي. په دى اړه دلاندى کړنې هر وخت ، هر ځاى هرنگ چې وى د پورتنې ذکر شوى وگړو پر ضد منع دى . (a) د شخص او د هغه د ژوند حق څخه سرغړونه او په ځانگړى ډول د وژلو ټول ډولونه ، د شلشوټ کولو ، بى رحمانه سلوک او شکنجه (b) د شخص په وقار حرمت تجاوزپه ځانگړى ډول تحقر او ټيټ گڼلو سلوک (c) برغمل کول (d) د سزاگانو صدور او يا د اعدامونو سزاگانو پلى کول د يو قانوني محکمى د مخکنى پريکړې پرته چې ټول عدلي تضمنونه له ځان سره ولرى او په عمومي ډول هغه تضمن جزلاننفک او منل شوي وي.

[۱۲] دغه مرجع ته مراجعه وکړئ: د سره صليب نړيواله کميټه (آي سي آر سي) ، د نړيوالي بشرپالني عرفي حقونه ، ليکوال: جان ماري هينکارتز تو لويس دوسوالد بک ( CU P/ICRC, Cambridge 2005) د اي سي آر سي څيړني.مطالعه کميته.

• تشخیص او تمیز: ملکي وګړي په عمومي ډول او ملکي انفرادي اشخاص باید تر برید لاندې رانه شي. "[ښکیلې خواوې] باید په هر وخت کې د ملکي خلکو او جنګیالیو او د ملکي او نظامي هدفونو ترمنځ توپیر وکړي."[۱۳]

• تناسب: "هغه برید منع دي چې کیدای شي په تصادفي ډول د ملکي وګړو د وژنې ، ژوبلې ، د دې دواړو سبب وګرځي او ښايي د هغو مشخصو او مستقیمو نظامي برياوو په پرتله ډیرې زیاتې وي چې له برید څخه یې تمه کیږي."[۱۴]

• په برید کې احتیاط: "ملکي وګړي باید په عمومي ډول د نښتې له خطرونو څخه په امن کې وساتل شي."[۱۵] په نظامي عملیاتو کې په پرلپسې ډول باید دې ته پاملرنه وشي چې ملکي خلک تلف نه شي او ملکي شیانوته زیان ونه رسیږي. او په پوره ډول ممکن احتیاط وشي چې " د ملکي وګړو د تصادفي تلف کیدلو ، ملکي شیانو ته د زیان رسیدلو او د ملکي وګړو د ژوبل کیدلو څخه مخنیوي وشي."[۱۶]

• ټول هیوادونه چې اوس مهال په افغانستان کې له نړیوالو نظامي ځواکونو سره مرسته کوي ، لکه په افغانستان کې نړیوال سوله ساتي ځواکونه (ایساف) د امریکا ځانګړې قواوې ، د ازادۍ د پایښت د عملیاتو غړي ځواکونه یا هغه ځانګړي ځواکونه چې د قوماندې د دغو جوړښتونو له حدودو څخه بهر فعالیت کوي د ژنیو د ۱۹۴۹ کال د څلورګونو ترونونو غړي هیوادونه دي. که څه هم ټول هغه هیوادونه چې افغانستان ته یې نظامي ځواکونه استولي دي د ۱۹۷۷ کال مل لومړي اودوهم پروتوکولونو غړي ندی ، خو د دې سره سره د هغو اصولو په مراعت کولو مکلف دي چې د نړیوال دودیزه قانون برخه ده.

### (ii) د بشري حقونو د نړیوال قانون له مخې مکلفیتونه

د بشري حقونو نړیوال قانون هم د وسله والې نښتې او هم د سولې په وخت کې د تطبیق وړ ګڼل کیږي. د بشري حقونو نړیوال قانون د بشر پالنې د نړیوال قانون سره متممي او یو د بل پیاوړي کوونکي په توګه د تطبیق وړ دي.

افغانستان د بشري حقونو یو شمیر نړیوال ترونونه لاسلیک کړي دي[۱۷] چې په هغو کې د مدني او سیاسي حقونو نړیوال ترون (آی سي سي پي آر) شامل دي او د افغانستان دولت په دې مکلف کوي چې په خپل قلمرو یا د دولت د حاکمیت په سیمه کې د ټولو اوسیدونکو د بنسټیزو بشري حقونو ساتنه وکړي

سره له دې چې په افغانستان کې نا دولتي ډلې ، د وسله والو ډلو په ګډون ، نه شي کولای په رسمي ډول د بشري حقونو دنړیوالو ترونونو غړي شي ؛ خو کوم ځای چې نادولتي ډلې ، لکه طالبان عملاً سیمه په ولکه کې لري ، نو طالبان په دې اړه ډیر مکلف ګڼل کیږي ،چې د نړیوال بشري حقونو مکلفیتونه مراعات کړي.[۱۸]

د بشری حقونو د نړیوال قانون له مخې چې د جګړې پر وخت د پلی کیدو وړ دي ، دولتونه دنده او مکلفیت لري چې د خپل ځواکونو لخوا[۱۹] په ځانګړې ډول د هغه ځواکونو چې قانون پلي کونکي وي د وژونکې یا مهلکې قوې د کارولو په اړه پلټنه وکړي. دولت دغه مکلیفیت د بالقوه مسؤلیت یانې ځواب ویلو مسؤلیت سره یو ځای چې په پلی کولو کې پاتې راغلي ، د ژو ند حق څخه سر چینه اخلي.[۲۰] د حکومت لخوا پلټنه باید سم لاسي ، هر اړخیزه ، بی پري او او خپلواکه وي چې د اغیزمن پلټلو[۲۱]

---

[۱۳] دویم الحاقي پروتوکول. ۱۳(۲) ماده.

[۱۴] دغه مرجع ته مراجعه وکړئ: د سره صلیب نړیواله کمیټه (آي سي آر سي)، د نړیوالي بشرپالني عرفي حقونه ، لیکوال: جان ماري هینکارتز تو لویس دوسوالد بک (CU P/ICRC, Cambridge 2005) د اي سي آر سي خیړني.مطالعه کمیته.

[۱۵] دویم الحاقي پروتوکول. ۱۳ (۱) ماده.

[۱۶] د نړیوال سره صلیب د نړیوال بشر دوستانه عرفی قانون په اړه د مطالعی د ۱۵ څخه تر ۲۱ پوری قواعد .

۱۷ افغانستان د بشري حقونو د بین المللي لاندنیو ترونونو او معاهدو یو غړي هیواد دي: د مدني او سیاسي حقونو نړیوال ترون په ۲۴ اپریل ۱۹۸۳ ؛ د اقتصادي اجتماعي او کلتوري حقونو ترون ۲۴ اپریل ۱۹۸۳ ؛ د نژادي تبعیض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو بین امللي ترون ، ۵ اګست ۱۹۸۳ ؛ د ښځو په وړاندې د تبعیض د ټولو شکلونو د له منځه وړلو ترون ، ۵ مارچ ۱۹۸۳ ؛ د شکنجې او نورو توهینوونکو او غیر انساني جزا او چلند د منع کولو ترون ، ۲۶ جون ۱۹۸۷ ؛ د ماشوم د حقونو ترون ، ۲۷ اپریل ، ۱۹۹۴ ؛ او دماشومانو د حقونو ، دماشومانو د پلورلو ، د ماشومانو د فحاشۍ او د پورنوګرافۍ د منع د کنوانسیونو اختیاري پروتوکول ، ۱۹ اکتوبر کال ۲۰۰۲ ؛ او په وسله واله جګړه کې د ماشوم ګډون په باب د ترون اختیاري پروتوکول چې د ۲۰۰۳ کال د سپتمبر په ۲۴ تصویب شوي دي. منبع : http://www.aihrc.org.af/English/Eng_pages/X_pages/conventions_af_z_party.html

۱۸ د ملګرو ملتونو عمومي سر منشي ، په سریلانکا کې د حساب ورکونې په اړه د عمومي منشي د کارپوهانو د پلاوي راپور ۲۰۱۱ ، ۳۱ مارچ پاراګراف ۱۸۸. دغه راز وګورئ د لیبیا په عربي جمهوریت کې د بشرپالنې د بین المللي قانون د نقض په اړه د څیړنو د بین المللي کمیسیون د تحقیقاتو راپور A/HRC/17/44 ۱ جون ۲۰۱۱.

[۱۹] د ملګرو ملتونو د لاندینی اصولو نهم ، لسم او اوه لسم شمیری پاراګرافونو ته مراجعه وکړئ:

[۲۰] د ملګرو ملتونو د بشری حقونو د کمیټی لاندینی عمومی کتنو ته مراجعه کړئ:

غوښتنو ته ځواب وویلی شي او په ازاد ډول عام خلک تنقید وکړای شي .[22] حکومت مکلفیت لري چې د تطبیق وړ قوانینو په رڼا کې ټولې پیښې په شمول د هغه پیښو چې د وسلوالې جګړې له امله رامنځ ته شوې وي ، وڅیړي. دا شونې ده چې عسکر د جګړې پر وخت د قانون پلی کیدو فعالیتونه هم تر سره کړي.[23]

### (iii) د نړیوال جنایې قانون په وړاندې مکلفیتونه

افغانستان په ۲۰۰۳ کال کې د روم نړیوالې جنایي محکمې اساسنامه تصویب او له هغې سره یو ځاي شو. له دې امله افغانستان لومړني مسوولیت لري چې د نړیوالو جرمونو په اړه تحقیق وکړي ؛ لکه جنګي جرمونه ، د بشریت ضد جرمونه او نسل وژنه ، او د خپلو محاکمو په صلاحیت کې هغه تر عدلي تعقیب لاندې ونیسي. که افغانستان ونشی کولاي او یا و نه غواړي چې دغه کار وکړي ، نړیواله جنایي محکمه کولاي شي په افغانستان کې خپل صلاحیتونه عملي کړي.

هغه دولتونه چې نظامي ځواکونه یې په افغانستان کې د نړیوالو نظامي ځواکونو په لیکه کې شامل دي او د افغانستان د شخړې یو لورى دى ، مسوولیت لري چې هغه نړیوال جرمونه تحقیق او تعقیب کړي چې د دوي اتباع په افغانستان کې ددغو جرمونو په ارتکاب تورن وي.[24]

په ځانګړي توګه دولتونه مکلف دي چې د نړیوالې جنایي محکمې د اساسنامې ۸ (۲) (اي) (آی) مادې څخه سرغړونه تر عدلي تعقیب لاندي ونیسي. دغه ماده وایې "په قصدي ډول په عام ولس یا انفرادي اشخاصو باندې چې په مستقیم ډول په شخړو کې ښکیل نه وي مخامخ برید کول" په داخلي وسله والو شخړو کې جنګي جرم ګڼل کیږي.

برسیره پر دی ، د ملګرو ملتونو د امنیت شورا په خپل ۱۳۲۵ پریکړه لیک کی دا په ډاګه کړی چې د ټولو دولتونو لپاره ضروری ده چې د ښځو او نجونو په هکله د بشرپالنی د نړیوال قانون او بشریي حقونو نړیوال قانون اړوند نورمونه په بشپړ

---

UNHRC, General Comment No. 31 (2004), § 15; UNHRC, General Comment No. 6 (1982), § 4; ECtHR, *McCann case*, § 169;

ECtHR, *Kaya case*, § 86; ECtHR, *Ergi v. Turkey*, Application No. 23818/94, Judgment of 28 July 1998, §§ 82, 86; ECtHR, *Isayeva v. Russia*, Application No. 57950/00, Judgment of 24 February 2005, §§ 208-9, 224-5; IACiHR, *Abella (La Tablada) case*, § 244; IACiHR, *Alejandre case*, § 47; ACiHPR, *Civil Liberties case*, § 22.

UNHRC, General Comment No. 31 (2004), § 15; UNHRC, General Comment No. 6 (1982), § 4; ECtHR, *McCann case*, § 169;

ECtHR, *Kaya case*, § 86; ECtHR, *Ergi v. Turkey*, Application No. 23818/94, Judgment of 28 July 1998, §§ 82, 86; ECtHR, *Isayeva v. Russia*, Application No. 57950/00, Judgment of 24 February 2005, §§ 208-9, 224-5; IACiHR, *Abella (La Tablada) case*, § 244; IACiHR, *Alejandre case*, § 47; ACiHPR, *Civil Liberties case*, § 22.

[21] لاندینی مرجع وګورئ:

IACiHR, *Abella (La Tablada) case*, § 412; ECtHR, *Özkan case*, § 184; ECtHR, *Orhan v. Turkey*, Application No. 25656/94, Judgment of 18 June 2002, § 335; ECtHR, *Isayeva et al. case*, § 210-11; ECtHR, *McCann case.*

IACiHR, *Abella (La Tablada) case*, § 412; ECtHR, *Özkan case*, § 184; ECtHR, *Orhan v. Turkey*, Application No. 25656/94, Judgment of 18 June 2002, § 335; ECtHR, *Isayeva et al. case*, § 210-11; ECtHR, *McCann case.*

۲۲ لاندینی مرجع وګورئ:

ECtHR, Hugh Jordan v. the United Kingdom, Application No. 24746/94, Judgment of 4 May 2001, § 109; ECtHR, Özkan case, § 187; ECtHR, Isayeva et al. case § 213; ECtHR, Isayeva case, § 214.

ECtHR, *Hugh Jordan v. the United Kingdom*, Application No. 24746/94, Judgment of 4 May 2001, § 109; ECtHR, *Özkan case*, § 187; ECtHR, *Isayeva et al. case* § 213; ECtHR, *Isayeva case*, § 214

[23] لاندینی مرجع وګورئ: سي. ډروګ وګورئ " د قانون پلي کونکي او د جګړی د تر منځ توپیر "

C. Droege, "Distinguishing Law Enforcement from Conduct of Hostilities" P57-63 Expert Meeting "Incapacitating Chemical Agents" Law Enforcement, Human Rights Law and Policy Perspectives Montreux, Switzerland 24 To 26 April 2012 Available at http://www.icrc.org/eng/assets/files/publications/icrc-002-4121.pdf; Nils Melzer, "Conceptual Distinction and Overlaps between Law Enforcement and the Conduct of Hostilities," in *The Handbook of the International Law of Military Operations* (Oxford: Oxford University Press, 2010), pp. 43-44.Nils Milzer, *Human Rights Implications Of The Usage Of Drones And Unmanned Robots In Warfare*, Directorate-General For External Policies Of The Union, Policy Department (2013) Available at
http://www.europarl.europa.eu/delegations/en/studiesdownload.html?languageDocument=EN&file=92953

[24] پرته له دې نظر نیولو کې چې دولتونه د نړیوالې جنایې محکمې غړي دي او که نه دي ، دوي بیا هم مکلفیت لري چې د بشري حقونو او دبشر پالنې نړیوال قانون څخه د سختو سرغړونو تحقیق وکړي هغه مهال چې د افغانستان په سمه کې عملیات تر سره کوي چې د ای سي سي غړی دی او دا رنګه د نړیوال جنایی قانون لاندی مکلفت لري .

ډول رعایت کړی او د دوی د ساتنې لپاره خاص اقدامات ترلاس لاندی ونیسی ځو د جګړې پر مهال د جنسیت پر اساس د خشونت پروړاندی د هغوی ساتنه وکړی.[۲۵]

### (iii) د ملي قوانینو په وړاندې مکلفیتونه

د جګړې په اړه ، یوناما د ملکي خلکو لپاره هغه تعریف کاروی چې د نړیوال قانون سره مطابقت لری. د جګړی نوری ښکیلی خواوی د ملکیانو لپاره خپل ځان لپاره بیل تعریفونه لری څرنګه چې لاندی په دی راپور کې راغی.[۲۶]

د دولت ضد عناصر د افغانستان د جنایي قوانینو له مخې د عدلي تعقیب وړ دي.د نړیوالو پوځي ځواکونو غړي د دوي د خپلو دولتونو د ملي قوانینو د نقض له امله پر حساب ورکولو مسؤول دي.

یوناما د ملکي وګړو لپاره هغه تعریف کاروي چې د بشرپالنې د نړیوال قانون په معیارونو برابر دي. د بشرپالنې د نړیوال قانون له مخې "ملکي" هغه څوک دي چې د جنګیالیو (نظامیا شبه نظامي ځواکونو) او یا هم د منظمو وسله والو ډلو غړي نه وي چې په شخړه کې د یو لوري او یا هم د یو عمومی قیام[۲۷] یوه برخه وي . یو ملکي وګړی هغه وخت او دهغې مودې په ترځ کې د خپل ملکي توب موقف له لاسه ورکوي چې په وسلواله شخړه کې په مستقیم ډول برخه واخلي.

همداراز د ملکي خلکو په شان لاندینی کسان باید له هر ډول برید او تعرض څخه وساتل شی: هغه څوک چې د جګړی له لیکو څخه لیری کیږی (لکه ټپیان ، ناروغان ، د ویجاړه شوي کښتۍ عمله او توقیف شوی او تسلیم شوی کسان) او یا هم هغه کسان چی د وسله والو ځواکونو مذهبی او یا صحی کارکوونکی دی.

د بشرپالنې نړیوال قانون په شخړه کې له ښکیلو خواوو څخه غوښتنه کوي چې د نظامي عملیاتو په ترځ کې تل د نظامی/شبه نظامی ځواکونو د غړو ، د منظمو او سازمان یافته وسله والو ډلو د غړو او ملکي خلکو ترمنځ توپیر وکړي. هغه کسان چې په جګړه کی ښکیل نه دی او یا له دې وروسته په جګړه کې برخه نه اخلي خوندي دي او باید تر هدف او برید لاندی رانه شي.

د افغانستان په وسلواله شخړه کې دغه راپور د خلکو د بیلا بیلو کتګوریو په وړاندې بریدونه مستندوي چې په جګړو کې په مستقیم ډول برخه نه اخلي لکه ملکی کارکوونکی ، ښوونکي ، د روغتیایي مرکزونو کارکونکي ، د ټاکنو کارکوونکی او هغه کسان چی په عامه خدمتونو کې بوخت دی ، سیاسي شخصیتونه ، اداری کارکوونکي ، د نا دولتي موسسو کارکوونکې او د ملکي پولیسو پرسونل چې په مستقیم ډول په جګړو او د یاغیتوب سره د مبارزی په عملیاتو کې برخه نه اخلي.

---

[۲۵] S/RES/1325 (2000) ؛ دغه مرجع هم وګورئ: S/RES/1820. (2008), S/RES/1888 (2009), S/RES/1889 (2009), and S/RES/1960 (2010)

[۲۶] د طالبانو له خوا د ملکي خلکو لپاره کارول شوی تعریف د دی راپور په لاندینیو برخو کې وګورئ

[۲۷]

## میتودولوژي

یوناما د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې راپورونه تر هغه ځایه چې ممکن وي د مرګ ژوبلي په سیمه کې څیړي ؛له مختلفوسرچېنو سره سلا مشوره کوي او د معلوماتو بیلا بیل ډولونه راغونډوي چې د اعتبار او رښتینتوب له مخې ارزول شوي وي. یوناما د هرې پیښې په څیړنه او تحلیل کې زیاته هڅه کوي چې د امکان تر حده پورې له مختلفو منابعو څخه راټول شوي معلومات او نظریات کره او کنټرول کړي. په دې لړ کې د عیني شاهدانو او په مستقیم ډول د زیانمنو شویو وګړو بیانونه ،نظامي برخه والو (د افغانستان د حکومت او نړیوال نظامي ځواکونو په ګډون) ځایي کلي/د ولسوالۍ او ولایت چارواکو ، مذهبي او د ټولنې د مشرانو او هغه معلومات شامل دي چې په مستقیم ډول د ساحې له کتنې څخه او د پیښې له ځای څخه لاس ته راغلي اجناس/مدارک او شواهد او د هغوی فزیکي ازمایښت ، له روغتونونو او روغتیایي اسانتیاوو څخه کتنه ، ویډیوګانې او تصویرونه ، د ملګرو ملتونو د امنیت او مصوونیت د څانګې او د دې سازمان د نورو ادارو راپورونه ، د دویم لاس سرچېنو بیانونه ، د خبري رسنیو راپورونه او له نا دولتي موسسو او دریم ګړي له خوا راټول شوي معلومات په کې شامليږي.

ترهغه ځایه چې ممکن وي ، تحقیقات د قربانیانو یا د حادثې د عیني شاهدانو په مستقیم شهادت او د پیښې د ځاي په پلټنو ولاړ وي. په ځینو وختونو کې ، د پښې ځای ته د امنیتي ستونزو له امله لاس رسي محدود وي ، او دغه ډول تحقیقات ممکن نه وي ، په داسې وختونو کې یوناما یو لړ تخنیکونه کاروي چې دامکان تر بریده د پراخه معتبرو شبکو څخه معلومات تر لاسه کړي اوداعتبار اوباور له مخې یې کره کړي.

کله چې یوناما د یوې پیښې په اړه د معلوماتو د کره والي څخه ډاډمنه نه وي د هغې پېښې په اړه راپور نه ورکوي. په ځینو قضیو کې تحقیقات ښایي  مخکې له هغه چې نتیجې ته ورسیږي څواونۍ وخت ونیسي. دا پدې معنی ده چې د ملکي تلفاتو په اړه نتیجې ښایي چې بیا نوې شي ځکه چې نوي معلومات را رسیږي او په تحلیل کې ورځخه کار اخستل کیږي . په کوم ځاي کې چې معلومات ښه څرګند نه وی تر څو چې معتبراو قناعت بخښونکي شواهد لاس ته نه وي راغلي نو نتیجه ګیري نه کیږي او له دې څخه پرته قضیه تړل کیږي او احصایوي راپور کې د هغې خبر نه شامیلیږي.

د ځینو پېښو په راپور کې د قربانیانو ملکي هویت (موقف) په بشپړ ډول نه شي ثابتیدلای او یا لانجه من ټکي وي ، په داسې قضیو کې یوناما د بشرپالنې د نړیوال قانون معیارونه په پام کې نیسي او داسې نه ګڼي چې د جنګ لپاره د عمر په لحاظ برابر نارینه جنګي یا ملکي کس دي. بلکه دا ډول ادعاګانې په پیښې پورې د اړوندو حقایقو پر بنیاد ارزول کیږي. که چېرې د یوه یا څو قربانیانو هویت څرګند نه وي ، د وژنې دغه ډول پیښې د ملکي وګړو د مرګ ژوبلي په عمومي شمیر کې نه شامليږي.

په وسله والو شخړوکې د ملکي وګړو د ساتنې په اړه د راپور ورکولو او تحلیل لپاره یوناما په ۲۰۰۹ کال کې یو بریښنایي ډیټابیس پرانیست. ډیتابیس داسې طرح شوي دي چې د معلوماتو سیستماتیکه ، یوشان او اغیزمنه ټولونه او تحلیل اسانه کوي ؛ چې د جنس ، عمر ، مرتکب ، تاکتیک ، او نورو اړخونو په لحاظ د معلوماتو ویشل او تحلیل هم په کې شامل دي.

یوناما تر ممکنه بریده هڅه کوي چې د ملکي مرګ ژوبلي پیښې کره او مسؤول لوري په مشخصه توګه په ګوته کړي. د عملیاتو په ډګر کې د ستونزو له امله لکه د ځینو نظامي عملیاتو ګډ ماهیت ، او د لومړنیو سرچېنو ناتواني چې په ډیرو قضیو کې نه شي کولاي د بیلا بیلو نظامي برخه والو/ دولت ضد وسلوالو په منځ کې توپیر وکړي ، او کله چې هیڅ یوه خوا د یوې پیښې مسوولیت نه وي منلي ، یوناما د یوې خاصې پیښې مسوولیت یا خو دولت پلوه او یا دولت ضد عناصرو ته منسوبوي. یوناما ادعا نکوي چې په دغه راپور کې شمیرې بشپړې دي ؛ د کار په چاپیریال کې د محدویت په نظر کې نیولو سره کیداي شي یوناما د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې  پوره  راپور نه وي ورکړې.

**لندیز**

*د تاکنو څخه یوه ورځ وړاندې زه د خپلې سیمې په جومات کې د خپل وزی او نورو کلیوالو سره د لمونځ کولو په حال کې وم چې ډزو غږ راپورته شو. دغه جګړه د طالبانو او دولتي ځواکونو تر منځ و. دواړه خواوی د درندو وسلو (هاوانونو او راکټونو) څخه کار اخیستل. ناڅاپه یو هاوان زمونږ په جومات کې ولګید چې په نتیجه دوه نارینه او یوه هلک زما په مخ کې ووژل شول چې یو یې زما زوی و. صرف زما لاس ټپي شوی لاکن زما زوی وژل شوی و. څلور تنه نور کسان چې زمونږ د کلي څخه نه وو او دی جومات ته د لمانځه لپاره راغلی وو هم ټپیان شول.*[۲۸]

-- د ۲۰۱۴ کال د اپریل په ۴ نیټه کې د ننګرهار ولایت د پچیر او اګام ولسوالي پر یو جومات باند د هاوان برید یوه قرباني. په دی برید کې ۳ ملکي خلک ، د یوه ۱۵ کلن ماشوم په شمول ، ووژل شول او ۵ تنه نور ملکیان ټپیان شول.

د ۲۰۱۴ کال په لومړی شپږو میاشتو کی د افغانستان وسله واله جګړه د ملکي خلکو لپاره یوه خطرناکه نوی بڼه درلود. د ۲۰۰۹ کال راهیسی کله چې یوناما د لومړی ځل لپاره په منظم ډول په افغانستان کې د ملکي خلکو د تلفاتو مستند کیدل پیل کړ ، دا وموندل شو چې د نورو تکتیکونو په پرتله زیاتره ملکي خلک د دولت ضد عناصرو او افغان ملي امنیتي ځواکونو تر منځ په ځمکنۍ نښتو او مستقیمو ډزو په جریان کی وژل یا ټپي شوی دی. په تیرو کلونو کې ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي زیاتره ملکي افغانان د افغانستان په جګړې کې وژلی او ټپي کړی دي.

د ۲۰۱۴ کال د جنوری له ۱ نیټی څخه د جون تر ۳۰ پوری[۲۹] یوناما د ملکي خلکو د تلفاتو ۴۸۵۳ پیښې (د وژل کیدو ۱۵۶۴ پیښې او د ټپي کیدو ۳۲۸۹ پیښې) مستند کړی دي چې د د ۲۰۱۳ کال لومړنی شپږ میاشتو په پرتله د ملکی خلکو د تلفاتو په ټولو پیښو کې ۲۴ سلنه (د وژل کیدو ۱۷ سلنه زیاتوالی او د ټپي کیدو ۲۸ سلنه) زیاتوالی ښیی.[۳۰]

یوناما د ملکي خلکو ۷۴ سلنه مرګ ژوبله د دولت ضد عناصرو[۳۱] ته ، ۹ سلنه دولت پلوه ځواکونو[۳۲] ته (۸ سلنه افغان امنیتي ځواکونو ته ، ۱ سلنه نړیوال پوځی ځواکونو) ته منسوبوی او ۱۲ سلنه د دولت ضد عناصرو او افغان ملي امنیتي ځواکونو تر منځ د ځمکنی نښتو[۳۳] له امله ملکي خلکو ته مرګ ژوبله چې هیڅ یو ډلې[۳٤] ته نه منسوب کیږی. همدارنګه یوناما د ملکي تلفاتو ۴ سلنه د جګړي څخه چاودیدونکي پاتې شوني[۳٥] ته او پاتی ۱ سلنه د پاکستان څخه د افغانستان په سرحداتو کی ډزو ته منسوبوی.

[۲۸] پر یو جومات باندی د یو هاوان برید له قرباني سره د یوناما مرکه ، د ۲۰۱۴ کال د اپریل ۶ ، جلال اباد ، د یوناما د څیړنې له مخې دغه ملکي تلفات هغه وخت رامنځ ته شو کله چې افغان ملي امنیتي ځواکونه د دولت ضد عناصرو د برید په غبرګون کې له هاوان څخه کار واخیست.

[۲۹] په وسله واله جګړه کې د ملکي تلفاتو د ساتنې په اړه دغه شپږمیاشتنی راپور د ۲۰۱۴ او ۲۰۱۳ کلونو تر منځ د لومړنی شپږو میاشتو معلومات یو له بل سره مقایسه کوی. د هر کال د لومړنی شپږو میاشتو مقایسه د دی لپاره کارول شوی څو د په هر کال کې د جګړی د موسم چې د هر کال د اپریل/می څخه تر اګست/سپتمبر پوری دوام لری په دقت تحلیل او مقایسه شي.

[۳۰] د ۲۰۱۳ کال د جنوری له ۱ نیټی څخه د جون تر ۳۰ پوری یوناما د ملکي خلکو د وژل کیدو ۱۳۴۲ پیښې او د ټپي کیدو ۲۵۷۷ پیښي (۳۹۱۹ ټول ملکي تلفات) مستند کړی دی.

[۳۱] یوناما د دولت ضد عناصر داسی تعریفوی: هغه اشخاص او ډلې راڅي چې اوس مهال د افغانستان د دولت او نړیوالو نظامي ځواکونو پر ضد په وسله واله جګړه کې ښکیل دي. هغه وګړي چې د طالبانو په نامه پیژندل شوي او هغه اشخاص اوبیلا بیل ډلی چې په جګړه فعاله برخه اخلي ، او تر مختلفو نومونو لاندې لکه د حقاني شبکه ، حزب اسلامي د ازبکستان اسلامي حرکت ، د اسلامي جهاد اتحاد ، لشکر طیبه او جیش محمد او نورې ملیشې او وسله والې ډلې چې سیاسي ، ایدولوژیکي او اقتصادي اهداف تعقیبوي یا نوري جرایم پیشه ډلې چې په جګړه کې د یوې ښکیلې خوا په استازیوب ګډون کوي ، په دغوعناصرو کې راڅي.


[۳۲] په دولت پلوه ځواکونه کی دغه ډلی شامل دی: افغان دولتي ځواکونه او ټول هغه ځواکونه او ډلي دي چې په نظامي او نیمه نظامي عملیاتو یا د بغاوت ضد عملیاتو کې برخه اخلي او په مستقیمه یا غیر مستقیمه توګه د افغانستان د دولت د قوماندی او اداري لاندې دي. په دې ځواکونو کې افغان ملي اردو ، افغان ملي پولیس ، افغان سرحدي پولیس ، د ملي امنیت په شمول نور سیمه ییز امنیتي ځواکونه هم شامل دي. دغه اصطلاح نړیوال نظامي ځواکونه او نور خارجي استخبارات او امنیتي ځواکونه هم رانغاړي.

[۳۳] په ځمکنیو جګړو کې دغه نښتې شامل دی: د جګړی د ښکیلو خواوو تر منځ ځمکنی متحرک عملیات ، د لیری واټن څخه برید ، د ډزو تبادله او وسله واله نښتې. په ځمکنیو نښتو کی د بریدونو او عملیاتو په وخت کی د سپکو او درندو وسلو او یا د هاوانونو راکټونو کارول هم شامل دی.

[۳٤]

[۳٥] له جګړې څخه چاودیدونکي پاتې شوني چې ناچاودي توکي ،او پرېښودل شوي چاودېدونکي توکي هم یادیږی.

د ۲۰۰۹ کال د لومړنی شپږو میاشتو په مقایسې سره چې یوناما د ملکي خلکو د تلفاتو پر نظارت باندی پیل کړ، د ۲۰۱۴ په کال کې د دولت ضد عناصرو له خوا د ملکي خلکو تلفات دوه برابره شوی دی (له ۵۹۹ څخه ۱۲۰۸ ته راپورته شوی) په داسی حال کی چې د دولت پلوه ځواکونو له خوا د ملکي تلفاتو پیښې تیمایی پوری رسیدلی (له ۳۰۲ څخه ۱۵۸ ته راټیټ شوی). د دی کموالی دلیل دا دی چې د نړیوال پوځي ځواکونو له خوا هوایي بریدونه کم شوی دی.




په ۲۰۱۴ کال کې د ملکي خلکو د وژل کیدو او ټپي کیدو دغه زیاتوالي د دولت ضد عناصرو او افغان ملی امنیتي ځواکونو تر منځ د ځمکنی نښتو د تشدید له امله، په خاص ډول د ملکي خلکو د زیاتو نفوس لرونکو په سیمو کې، راپیښ شوی دی. د ۲۰۱۴ کال په لومړنی شپږو میاشتو کی د افغان ملکیانو زیات شمیر د ځمکنی جګړو په جریان کې وژل شوي او ټپیان شوي دي. د مثال په ډول، د هاوانونو، راکټونو او لاسی بمونو له امله د ملکی خلکو د وژنی رقم د ۲۰۱۳ کال د لومړنی شپږو میاشتو په پرتله دوه چنده شوي دي.

یوناما د ځمکنی نښتو له امله د ملکي خلکو د تلفاتو ۱۹۰۱ پیښې (د وژنی ۴۷۴ پیښې او د ټپي کیدنې ۱۴۲۷ پیښې) مستند کړی دی چې د ۲۰۱۳ کال په پرتله ۸۹ سلنه زیات دی.[۳۶] د ۲۰۱۴ کال د لومړنی شپږو میاشتو په موده کی ځمکنی نښتي د ملکی خلکو د تلفاتو له مهمو لاملونو څخه بلل کیږی چې له امله یی ملکی خلکو ته ۳۹ سلنه مرګ ژوبله اووښتی دی.

د دغو ۱۹۰۱ پیښو له جملې څخه چې د ځمکنی نښتو له امله راپیښ شوی دی، یوناما ۵۲ سلنه یی (د ۹۸۸ ملکي تلفاتو د پیښو له جملې څخه د وژل کیدو ۲۷۰ او د ټپي کیدو ۷۱۸ پیښې) د دولت ضد عناصرو ته او ۱۴ سلنه یی (د ۲۷۴ ملکي تلفاتو د پیښو له جملې څخه د وژل کیدو ۷۴ او د ټپي کیدو ۲۰۰ پیښې) دولت پلوه ځواکونو ته نسبت ورکړی.[۳۷] یوناما و نه شوای کولای چې د ځمکنی جګړو له امله د ملکي تلفاتو ۳۲ سلنه نوری پیښې (د ۵۹۹ پیښو له جملې څخه د وژل کیدو ۱۲۷ او د ټپي کیدو ۴۷۲ پیښې)[۳۸] هیڅ یوې ډلې ته نسبت ورکړی. د ځمکنی جګړو له امله د ملکي تلفاتو پاتی سلنه یی د پولې د بل اړخ څخه ډزو ته منسوب کیږی.

---

[۳۶] د ۲۰۱۳ کال د جنوری له ۱ نیټی څخه د جون تر ۳۰ پوری یوناما د ځمکنی نښتو له امله د ملکي خلکو د تلفاتو ۱۰۰۴ پیښې (د وژل کیدو ۲۱۹ پیښې او د ټپي کیدو ۷۸۵ پیښې) ثبت کړی دی.

[۳۷] د ملکي تلفاتو د ۲۷۴ پیښو له جملې څخه چې د دولت پلوه ځواکونو عملیاتو ته منسوب شوی دی، یوناما د دغو پیښو ۹۹ سلنه یی د افغان امنیتي ځواکونو ته منسوب کړی چې په هغوی کی د نړیوالو ځواکونو سره ګډ عملیات هم شامل دی، او ۱ سلنه نور یی د نړیوالو پوځي ځواکونو له خوا ځمکنیو جګړو ته منسوبیږی.

[۳۸] د جګړی د ښکیلو خواوو ترمنځ د سختو او اوږدو نښتو په جریان کې د پیښو منسوبول پر یو چا باندی ناممکن و، په خاص ډول د ملکي خلکو د مرګ ژوبلې هغه پیښې چې د ډزو د تبادلې له امله رامنځ ته شوي وو. یوناما دغه پیښې (د ملکي خلکو ۱۲۷ مړيني او ۴۷۲ ټپي کیدنی) دولت پلوه ځواکونو او د دولت ضد عناصرو ته منسوب کړی دی.

د ملکي خلکو په نفوس لرونکو سیمو کې د ځمکنی نښتو د تشدید له امله ښځو او ماشومانو ته هم بی سارې زیانونه اووښتی دی. د ځمکنی نښتو له امله د ماشومانو تلفات دوه برابره شوی چی په نتیجه کې ۵۲۰ ماشومانو ته مرگ ژوبله اووښتی دی (۱۱۲ ماشومان وژل شوی او ۴۰۸ تنه نور یی ټپیان شوی دی)، دغه رقم د ۲۰۱۳ کال په پرتله ۱۱۰ سلنه زیاتوالی ښیی.[٣٩] همدا راز د ځمکنی نښتو له امله ۲۵۶ ملکي ښځو ته مرگ ژوبله راپیښ شوی دی (۶۴ ښځې وژلې شوی او ۱۹۲ نور یی ټپیانې شوی دی) چی دغه رقم د ۲۰۱۳ کال په پرتله ۶۱ سلنه زیاتوالی ښیی.

په ځمکنی نښتو کی د ملکي تلفاتو نیمایي برخه یی د غیر مستقیمو ډزو (اکثرا په کورونو، کروندو او د لوبی په میدانونو کی د هاوانونو او لاسی بمونو د لگیدو) له امله چې عموما ښځې او ماشومان پکښی وو راپیښ شوی او دملکي تلفاتو پاتی برخه یی د ځمکنی نښتو په جریان کی د ډزو د تبادلی په وخت کی د ملکي خلکو د راگیر کیدو له امله رامنځ ته شوی دی.

په ۲۰۱۴ کال کی په عمومی ډول د جگړی اړوند خشونت پر ښځو او ماشومانو باندی په خاص ډول ناوړه اغیزه درلود. یوناما د ماشومانو د ملکی تلفاتو ټولټال ۱۰۷۱ پیښې (د ماشومانو د وژل کیدو ۲۹۵ پیښې او د ټپي کیدو ۷۷۶ پیښې) ثبت کړی دی چی دغه رقم د ۲۰۱۳ کال د لومړنۍ شپږو میاشتو په پرتله ۳۴ سلنه زیاتوالی ښیی.[٤٠] همدا راز ۱۴۸ ښځې وژلې شوی او ۲۹۲ ښځې ټپیانې شوی دی (د ښځو د ملکي تلفاتو ټولټال ۴۴۰ پیښې) چې دغه رقم د ۲۰۱۳ کال په پرتله ۲۴ سلنه زیاتوالی ښیی.[٤١]

د دولت ضد عناصرو له خوا د ځاي پرځاي شوي چاودېدونکو توکو د کارولو له امله هم، چې د ملکی تلفاتو دویم ستر لامل گڼل کیږی، ملکی خلکو ته بی ساری مرگ ژوبله اړولی دی.[٤٢] د ۲۰۱۴ کال د جنوری د ۱ نیټی څخه د جون تر ۳۰ پوری یوناما د ملکي خلکو د مرگ ژوبلې ۱۴۶۳ پیښې (د ملکي خلکو د وژنی ۴۶۳ پیښې او د ټپي کیدو ۱۰۰۰ پیښې) ثبت کړی دی چې دغه رقم د ۲۰۱۳ کال د همدې مودې په پرتله ۷ سلنه زیاتوالی او د ۲۰۰۹ کال راهیسی د ځاي پرځاي شوي چاودېدونکو توکو له امله د ملکي خلکو ډیر زیات تلفات ښیی. ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي بی له توپیره د خلکو د گڼه گونی او تگ راتگ په سیمو کی په دوامداره توگه او د فشار په ذریعه فعالیدونکي ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي هم په غیرقانوني ډول کارول کیږی چې دواړه د بشرپالنی د نړیوال قانون د تفکیک او تناسب د منل شویو اصولو څخه سرغړونه ده.

یوناما د دولت ضد عناصرو له خوا په عامو سیمو کې د لېرې څخه کنترول شوي ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي[٤٣] د کارولو له امله ۲۰۵ پیښې ثبت کړی دی چې له امله یی ملکي خلکو ته تلفات اووښتی دی. د جنوری د ۱ نیټی څخه د جون تر ۳۰ پوری یوناما لېرې څخه کنترول شوي ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي د کارولو له امله د ملکي تلفاتو ۶۳۷ پیښې (د ملکي خلکو د مړینې ۱۵۰ پیښې او د ټپي کیدو ۴۸۷ پیښې) ثبت کړی دی چې د ۲۰۱۳ کال د همدی مودې په پرتله ۱۳ سلنه زیاتوالی ښیی.[٤٤] د ځاي پرځاي شوي چاودېدونکو توکو د پیښو له جملی څخه د لېرې څخه کنترول شوي ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي پیښې ۴۴ سلنه او د ۲۰۱۴ په لومړنی شپږو میاشتو کې د ټولو ملکي تلفاتو له جملی څخه ۱۳ سلنه

---

[٣٩] د ۲۰۱۳ کال د جنوری له ۱ نیټی څخه د جون تر ۳۰ پوری یوناما د ځمکنی جگړو له امله د ماشومانو د مړینی ۶۰ پیښې او د ټپي کیدنې ۱۸۸ پیښې (د ملکي ماشومانو د تلفاتو ۲۴۸ پیښې) ثبت کړی دی.

[٤٠] د ۲۰۱۳ کال د جنوری له ۱ نیټی څخه د جون تر ۳۰ پوری یوناما د ماشومانو د مړینی ۲۴۳ پیښې او د ټپي کیدنې ۵۵۵ پیښې (د ملکي ماشومانو د تلفاتو ۷۹۸ پیښې) ثبت کړی دی.

[٤١] د ۲۰۱۳ کال د جنوری له ۱ نیټی څخه د جون تر ۳۰ پوری یوناما دښځو د مړینی ۱۰۶ پیښې او د ټپي کیدنې ۲۴۸ پیښې (د ملکي ښځو د تلفاتو ۳۵۴ پیښې) ثبت کړی دی.

[٤٢] یوناما د هغو پیښو د مسؤولیت تر منځ فرق قایل شوی چې د ځاي پر ځاي شوی چاودیدونکی توکو د کارولو له امله د جگړی د ښکیلو خواوو او یا نورو جنایت کارو ډلو له خوا ملکي خلکو ته تلفات رامنځ ته شوی. یوناما په خپل راپور کی یوازی د ځاي پر ځاي شوی چاودیدونکی توکی هغه پیښې شامل کړی چې د جگړی د ښکیلو خواوو له خوا ملکي خلکو ته مرگ ژوبله اووښتی دی.

[٤٣] راډیویی یا د لېرې څخه کنترول شوي ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي د یوه لیری واټن څخه کار کوی چې استفاده کوونکی کولای شی د مخی نه ځای پر ځای شوی دغه توکی ته په یو مناسب وخت کی چاودنه ورکړی او د یو متحرک هدف په نږدی کیدو سره تر برید لاندی راولی.

[٤٤] د ۲۰۱۳ کال د جنوری له ۱ نیټی څخه د جون تر ۳۰ پوری یوناما د لېرې څخه کنترول شوي ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي له امله د ملکي خلکو د مړینی ۱۳۷ پیښې او د ټپي کیدنې ۴۲۷ پیښې (ټولټال ۵۶۴ پیښې) ثبت کړی دی.

جوړوی. د افغان ملي امنيتي ځواکونو (اکثرا د افغان ملي پوليسو) پر واندی د لېږې ځخه کنترول شوي ځاي پرځاي شوي چاودېدونکي توکي د کارولو له امله ملکي خلکو ته زيات تلفات رامنځ ته کړی دی.

د ۲۰۱۴ کال د جنوری د ۱ نيټی ځخه د جون تر ۳۰ پوری يوناما د فشار په ذريعه فعاليدونکي ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکو توکو[45] د غيرقانونی کارولو له امله د ملکي خلکو د تلفاتو ۳۰۸ پيښې (د وژل کيدو ۱۶۱ پيښې او د ټپي کيدو ۱۴۷ پيښې ثبت کړی دی چې د ۲۰۱۳ کال د همدی مودې په پرتله ۳۳ سلنه زياتوالی ښيی او دغه رقم د دغو چاوديونکو توکو د کارولو په کموالې کې يو شاتګ دی چی په ۲۰۱۳ کی ليدل شوی دی.[46] د ځاي پرځاي شوي چاودېدونکو توکو د پيښو له جملی ځخه د فشار په ذريعه فعاليدونکي ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي پيښې ۲۱ سلنه او د د ټولو تکتيکونو له امله د ملکي تلفاتو له جملی ځخه ۶ سلنه جوړوی.


د ۲۰۱۴ کال په لومړنی شپږو مياشتو کی د ځان مرګو او ډله ييزو بريدونو له امله د ملکي خلکو د مرګ ژوبلی ۵۸۳ پيښې رامنځ ته شوی چې له امله يی ۱۵۶ تنه ملکي خلک وژل شوی او ۴۲۷ تنه ټپيان شوی دی ، دغه رقم د ۲۰۱۳ کال د همدې مودې په پرتله د دی ډول بريدونو له امله ۷ سلنه زيات شوی دی. د ۲۰۱۴ کال په لومړنی شپږو مياشتو کی د ځمکنی نښتو او ځاي پر ځاي شوي چاوديدونکو توکو د تلفاتو ځخه وروسته ځان مرګی او ډله ييز بريدونه د ملکي خلکو د تلفاتو دريم ستر لامل وو.

د ځمکنی نښتو او ځاي پر ځاي شوي چاوديدونکو توکو دواړه تکتيکونه ، چی پکښی ځان مرګی او ډله ييزی بريدونه هم شامل دی ، د ۲۰۱۴ کال په لومړنی شپږو مياشتو کې د ملکي خلکو د تلفاتو ۸۱ سلنه جوړوی.

په نښه شوي يا هدفمندې وژني د ټول ملکي تلفاتو سلنه جوړوی. د ۲۰۱۴ کال د جنوری د ۱ نيټی ځخه د جون تر ۳۰ پوری يوناما د هدفمندې وژنی او د وژنی د قصد (سوء قصد) له امله د ملکي خلکو د ۴۲۸ پيښې (د ملکي خلکو د وژل کيدو ۲۶۳ پيښې او د ټپي کيدو ۱۶۵ پيښې) ثبت کړی دی چې د ۲۰۱۳ کال د همدی مودې په پرتله ۱۰ سلنه زياتوالی ښيی.[47] په دغو پيښو کی د قومي مشرانو ، د دولتي ملکي چارواکو ، ملايانو او د قضا ملکي چارواکو وژنی شامل دی.

د ملکي خلکو د تلفاتو پاتې ۱۰ سلنه د هوايی عملياتو[48] ، د جګړې ځخه چاوديدونکي پاتې شونو ، د عکس العمل ښودلو پيښېو ، اختطاف[49] ، د تلاشی عمليات او د جګړی پورې اړوند نورو پيښو له امله رامنځ ته شوی دی.

[45] د فشار په ذريعه فعاليدونکي ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي په اصل کی د قربانی په ذريعه داسی فعاليدونکی بمونه دی چې پر هغه باندی د يوه قربانی او يا موټر په ختلو سره چاودی. د دغو توکو کارول ځکه غيرقانونی دی چی د دشمن او يا بی ګناه خلکو تفکيک نه شی کولای.
[46] د ۲۰۱۳ کال د جنوری له ۱ نيټی ځخه د جون تر ۳۰ پوری يوناما د قربانی د تماس سره فعاليدونکی ځاي پر ځاي شوي چاوديدونکي توکي له امله د ملکي خلکو د مړينی ۸۶ پيښې او د ټپي کيدنې ۱۴۶ پيښې (د مرګ ژوبلی ټولټال ۲۳۲پيښې) ثبت کړی دی.
[47] د ۲۰۱۳ کال د جنوری له ۱ نيټی ځخه د جون تر ۳۰ پوری يوناما د هدفمندو وژنو له امله د ملکي خلکو د مړينی ۳۳۷ پيښې او د ټپي کيدنې ۱۳۷ پيښې (د مرګ ژوبلی ټولټال ۴۷۴پيښې) ثبت کړی دی.
[48] د ۲۰۱۴ کال په لومړنی شپږو مياشتو کی د ملکی خلکو د ټولو تلفاتو له جملی ځخه ۱ سلنه يی هوايی عملياتو ته منسوب شوی دی.
[49] د ۲۰۱۴ کال په لومړنی شپږو مياشتو کی يوناما د اختطاف له امله د ملکي خلکو د تلفاتو ۲۵ پيښې (د مړينی ۱۷ پيښې او د ټپي کيدنې ۸ پيښې ثبت کړی دی. د وژنی دغه پيښې د ملکي خلکو د قتل او په اسارت کې د شکنجی له امله راپيښ شوی دی.




د ۲۰۱۴ کال په لومړۍ شپږو میاشتو کی طالبانو د ۱۴۷ پیښو مسؤولیت په غاړه واخیستل چې په نتیجه کې ۵۵۳ تنه ملکي خلکو ته تلفات واوښت (۲۳۴ تنه ووژل شول او ۳۱۹ تنه نور ټپیان شول). د تیرو کلونو په شان یوناما مشاهده کړ چې د طالبانو د اعلامیو او تدابیرو (د ملکي خلکو د ساتنې په اړه د دوی د هڅو او د ملکي خلکو د تلفاتو د مخنیوي لپاره د دوی د کمیسیون[50] په شمول) سره سره طالبانو د ملکي خلکو وژلو او ټپي کولو ته ادامه ورکړي چې په نتیجه کی د ملکي خلکو پر وړاندی د بریدونو او د بی توپیره تکتیکونو (په ځانګړې ډول ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکو توکو) د کارولو له امله په سل هاوو ملکي افغانانو ته تلفات اووښتي.

د ۱۴۷ بریدونو له جملې څخه ، چې مسؤولیت یې طالبان په غاړه اخیستی او یوناما پکښې ملکي تلفات ثبت کړي دي ، ۷۵ پیښې یې د پوځي هدفونو پر وړاندی ترسره شوی دی په داسی حال کې چې ۶۹ نور یې په قصدي ډول د ملکي هدفونو پر وړاندی کارول شوی دی ، لکه: د قومي مشرانو ، دولتي او قضایي ملکي کارکوونکو او په رستورانتونو کی د ملکي خلکو پروړاندی بریدونه. د مثال په توګه ، د جنوری په ۱۷ نیټه یوه ځان مرګه برید کوونکي او دوه وسله وال په کابل ښار کی د لبنانیو په یو رستورانت کی برید ترسره کړ چې برید کوونکی په قصدی ډول پر هر هغه چا باندی چې په رستورانت کې وو ډز وکړ چې په نتیجه کې ۲۱ ملکي خلک ووژل شول.[51]

د ۲۰۱۴ کال د اپریل په ۵ کې د جمهوري ریاست او ولایتي شوراګانو د ټاکنې او همداراز د جون په ۱۴ کی د جمهوري ریاست د ټاکنې د دویم پړاو اړوند خشونت هم د ملکي خلکو پر ساتنې باندی بدی پایلې درلود. د جنوری د ۱ نیټې څخه د جون د ۳۰ نیټې په موده کې یوناما د ملکي خلکو د تلفاتو ۶۷۴ پیښې (د وژل کیدو ۱۷۳ پیښې او د ټپي کیدو ۵۰۱ پیښې) ثبت کړی چې په مستقیم ډول د د ټاکنو د پر وسې پروړاندی ترسره شوی دی. د ملکي خلکو د دغه تلفاتو ډیری پیښې د


[50] د ۲۰۱۳ کال په جون کی طالبانو د د خپل پوځي کمیسیون په چوکاټ کی د ملکي تلفاتو د یوه کمیسیون/څانګی د تشکیلیدو اعلان وکړ څو د دی له لاری د ملکی تلفاتو عاملین وپیژندل شی ، د امکان په صورت مجازات شی و د تکرار څخه یی مخنیوی وشی .....

[51] دویمه ضمیمه وګوریځ (دغه ضمیمه د بشپړ راپور په پای کی وروسته خپریږی): هغه بریدونه چې مسؤولیت یی طالبانو په غاړه اخیستي دی: د پیښو شمیر د هدف د نوعیت په اساس. لومړی فصل ، د دولت ضد عناصرو او د ملکي خلکو ساتنه او همدارنکه د مسؤولیت د ادعا په اړه د طالبانو د اعلامیی برخی هم وګوریځ (دغه برخه هم د بشپړ راپور په پای کی وروسته خپریږی).

دولت ضد عناصرو د ځمکنی نښتو او د ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکو توکو د کارولو له امله رامنځ ته شوی چې د ټاکنیو د خپلواک کمیسیون کاروانونه ، د رای اچونې مرکزونه یا د ټاکنې نوماندان تر برید لاندی راغلی دی.

یوناما دوه بیلی پیښې هم په هرات کې مستند کړی چې د دولت ضد عناصرو ادعا شوی غړې د رایه ورکوونکو ګوتی پرې کړی وو. له دغو دوو پیښو څخه په یوه پیښه کی د دولت ضد عناصرو ادعا شوی غړی د ۱۱ ملکي خلکو د شهادت ګوتې د دی لکبله پرې کړی وو چی رایه ورکړی وو. طالبانو په خپل ویب پاڼه کی د یوې اعلامیې په خپرولو سره د دغه پیښې مسؤولیت رد کړ.

یوناما د دولت پلوه وسله والو ډلو له خوا د ملکي خلکو په وړاندی د بریدونو او ناوړه چلند په پیښو کې زیاتوالي مشاهده وکړ ، که څه هم دغه زیاتوالی د ملکي تلفاتو د ټولو پیښو ۱ سلنه جوړوی. د ۲۰۱۴ کال د جنوری څخه تر جون پوری یوناما د ناوړه چلند ، عملیاتو او د دولت پلوه وسله والو ډلو تر منځ د جګړو په ۱۳ بیلابیلو پیښو کې ۳۰ ملکي تلفات (۱۲وژنې او ۱۸ ټپي کیدنې) [۵۲] ثبت کړی دی. همدارنګه یوناما د دولت پلوه وسله والې ډلې له خوا د بشري حقونو د تخطییو لپاره د حساب ورکونی د په نه شتون هم متوجه شوی چې محلي او ولایتي چارواکي د مجرمینو د پلټنې ، تعقیبونی او مجازاتو څخه پاتی راغلی.




**ملاحظې**

یوناما مشاهده کړی ده چې د ۲۰۱۴ کال په لومړنی شپږو میاشتو کی د ډزو د تبادلې او ځمکنی نښتو په جریان کی د ملکي خلکو په مرګ ژوبله کی زیاتوالی په عمومی ډول د جګړی متغیر عواملو ته منسوب کیږی. په ۲۰۱۴ کال کې د دولت ضد عناصرو او افغان امنیتي ځواکونو ترمنځ په ځمکنی نښتو کی چې اکثرا د ملکي خلکو په نفوس لرونکو سیمو کې پیښ شوی و ، د ښځو او ماشومانو تلفات په لوړه کچه زیات شوی دی.

د ۲۰۱۳ کال په وروستی شپږو میاشتو کی د ۸۶ څخه زیات د ایساف د اډو د تړل کیدل هم د ملکي خلکو پرساتنی باندی اغیزه درلود. [۵۳] د ۲۰۱۴ کال په لومړنی شپږو میاشتو کې په ځینو سیمو کی یوناما د ملکي تلفاتو په زیاتوالی کی یو مستقیم ارتباط مشاهده کړ ، په ځانګړی ډول د ځمکنی نښتو په پیښو کې. په تیرو کلونو کی د ایساف د قوی او په ښو وسلو مجهزو

[۵۲] د ۲۰۱۳ کال د جنوری له ۱ نیټی څخه د جون تر ۳۰ پوری یوناما د ملکي خلکو د مرینی ۷ پیښې او د ټپي کیدنې ۲ پیښې (د مرګ ژوبلی ټولټال ۹ پیښې) ثبت کړی دی چې دولت پلوه وسله والو ډلو ته منسوب کیږی.

[۵۳] د ایساف د ماموریت د پیل څخه راپدیخوا ، ایساف له ۷۵۰ څخه زیات اډې تړلې او یا انتقال کړی دی. د متحده ایالتونو د پوځي انجنیري د څانګی د مشر سره د یوناما مرکه ، د ۲۰۱۴ کال د جولای ۶ ، د ایساف مرکزی دفتر ، کابل ، او په یوه مطبوعاتي کنفرانس کی د جنرال جوزف دن فورد ، د ایساف قوماندان بیانیه ، د ۲۰۱۴ کال د جنوری ۹ ، کابل.

عملیاتی اډو او پوستو شتون اکثرا له دی څخه مخنیوی کول چی د دولت ضد عناصر په نفوس لرونکی سیمو کی تک راتک وکړی. د دولت ضد عناصرو د زیاتو شمیرو په غبرګون سره افغان ځواکونه د خپل قلمرو د ساتنی لپاره عملیات سرته رسوی د تلاشی پوستی جوړوی ، ګزمی کوی او همداراز د بریدونو په مقابل کی د له ځان څخه دفاع کوی. دغه راز غبرګونونه د خلکو په نفوس لرونکو سیمو کی د جګړی د تشدید او زیاتوالی لامل ګرځی چی په نتیجه کی اکثرا ملکي خلکو ته تلفات اړول کیږی.

یوناما مشاهده کړی ده چې د نړیوالو پوځی اډو تړل کیدل او ورپسې د افغان امنیتي ځواکونو څخه زیات انتظار ، د سیاسي بی ثباتې فضا سره یو ځای (د ټاکنو د نتایجو ځنډیدل او متحده ایالاتو او افغان حکومت ترمنځ د دوه اړخیزي امنیتي تړون نه لاسلیک کیدل) په ځینو سیمو کې د دولت ضد عناصرو لپاره زمینه مساعده کړی چې د مهمو لارو او سیمو د کنټرول په موخه افغان ځواکونه تر ګواښ لاندی ونیسی. په ځینو سیمو کې چې د افغان امنیتې ځواکونو د کنټرول څخه بهر دی د دولت ضد عناصرو ته لاره هواره کړی چې غټو دله ییزو بریدونو ترسره کړی چې د زیاتو ملکي تلفاتو لامل ګرځیدلی. په نورو سیمو کې افغان ځواکونه په دی توانیدلی چې د ایساف اډو د تړل کیدو وروسته دغه سیمی تر کنټرول لاندی راولی او د ملکې خلکو تلفات راټیټ کړی دی.

د شخړی دواړه خواوی تر زیاته حده پوری د لیری واټن په تکتیک تکیه کړی ، لکه د هاوان او راکتو توغول ،چې د خپل ځان د ژغورنی او د مقابل لورې د دفع کولو لپاره کاوري او په نتیجه کې ملکي خلکو ته تلفات پیښ کیږی.

همداراز یوناما په ګوته کړی چې افغان امنیتي ځواکونه د ملکي خلکو د ساتنی په موخه د ټاکنو د پروسی څخه وړاندی د پاک کولو پراخ عملیات ترسره کړی څو د اپریل د ۵می نیټې د ټاکنی او همدارنګه د جون د ۱۴ می نیټې د ټاکنی د دویم پړاو په بهیر کې د دولت ضد عناصرو د بریدونو څخه مخنیوي وکړی.

یوناما د جګړې پر ښکیلو خواوو ، په خاص ډول د دولت ضد پر عناصرو باندی غږ کوې چې د جګړی په جریان کې د ملکي خلکو د تلفاتو د مخنیوی لپاره ډیر جدي اقدامات تر لاس لاندی ونیسي. د دی په نظر کې نیولو سره چې په پرنفوسو سیمو کې د یاغیانو او افغان ملي امنیتي ځواکونو ترمنځ ځمکنی نښتې ملکي خلک دلوړی کچی مرګ ژوبلې له خطر سره مخ کوی ، د ملکي خلکو د ساتلو لپاره ډیرو هڅو ته اړتیا ده څو ملکي خلک وساتل شی. د دولت ضد عناصرو له خوا د ځای پر ځای شوي چاودیدونکو توکو بی توپیره اوغیر قانونی کارونه چې د ۲۰۱۴ کال په لومړنی شپږو میاشتو کې په ټول افغانستان کې د ملکي خلکو د مرګ ژوبلی ګرځیدلی باید په ټپه ودرول شی څو د ملکي خلکو د تلفاتو څخه مخنیوي وشی.

یوناما یوځل بیا د جګړی پر ټولو ښکیلو خواوو اصرار کوی چې د ملکي خلکو د ساتنی لپاره لازم اقدامات تر لاس لاندی ونیسي او د بشرپالنې نړیوال قانون پر وړاندی خپل مکلفیتونه ادا کړی.

## سپارښتنې

### د دولت ضد عناصرو ته

- د استوګنی په سیمو کې د هاوانونو ، راکټونو او لاسی بمونو ویشتل ودروي.
- د ځاي پر ځاي شوي چاودیدونکو توکو بی تفکیکه او بی تناسبه کارول او همدارنګه د فشار په ذریعه د فعالیدونکي ځاي پر ځاي شوي چاودېدونکي توکي غیرقانون استعمال بند کړی ، په خاصه توګه د خلکو د تک راتک په سیمو کی.
- د ملکي ودانیو پر وړاندی او له دغو ودانیو څخه برید ودرول شی ، د رستورانټونو ، ملکي کورونو ، عامو لارو ، قونسل ګریو ، حکومتي ملکي دفترونو (لکه محکمې) په شمول.
- د ملکي خلکو داسی تعریف وکاروی چې د بشرپالنی د نړیوال قانون سره مطابقت ولری او د دی قانون د اوصولو سره سم تفکیک تناسب او احتیاطي تدابیر په پام کې ونیسې.
- هغه طرزالعملونه ، هدایات او لارښوونې دې په عمل کې پلي کړي چې د ملکي خلکو د تلفاتو څخه مخنیوې کوي او هغه غړی تر محاسبی او پوښتنی لاندی واولی چې ملکي خلک تر هدف لاندی نیسي ، وژني او یا هم ټپي کویي.

**افغان حکومت ته**

- د استوګنې په سیمو کې د هاوانونو ، راکټونو او لاسي بمونو ویشتل ودروي.
- د تکتیکي لارښوونو ، د جګړې د قواعدو او نورو کړنلارو د بیا کتنې او تقویه کولو له لارې د ځمکنی نښتو په جریان کی د ملکي خلکو د تلفاتو د کمولو لپاره مشخص اقدامات ترلاس لاندی ونیسی او د ملکي خلکو د ساتنې ، د تلفاتو راکمول او حساب ورکونی په منظور د افغان امنیتي ځواکونو د مناسب روزنې او د لازمو منابعو د برابرولو څخه ځان ډاډه کړی.
- د ځاي پر ځاي شویو چاودیدونکو توکو سره د مبارزې ستراتیژۍ د پوره تطبیق لپاره د لازمو منابعو اختصاص ورکول ته ادامه ورکړي. دی ته لومړیتوب ورکړ شی چي د افغانستان د ملي امنیتي ځواکونو ظرفیتونه لاهم زیات شي څو له دی لاری وکولای شی د دغو چاودیدونکو توکو سره د مبارزې عملیات او ددغو توکو د خنثی کولو او پاک کولو عملیات په اغیزمنه توګه رهبری ، کنټرول او اجرا کړي.
- د افغان ملي امنیتي ځواکونو او دولت پلوه ملیشو او د دوی د پلویانو له خوا د بشر پالنی د نړیوال قانون او بشري حقونو قانون څخه د سرغړونو او د بشري حقونو څخه د تخطیو ټولې ادعاګانې وڅیړل شی او او عاملین یی د افغانستان او نړیوال قوانینو په رعایت سره تر عدلی تعقیب لاندی راشی او مجازات شی.
- دغیر مسؤولو وسله والو ډلو بې وسلې کول او له منځه وړلو ته دوام ورکړی.

**نړیوال پوځي ځواکونو ته**

- د کافی منابعو ، لازمو روزنو او تجهیزاتو د برابرولو له لاری د افغان ملي امنیتي ځواکونو ملاتړ ته دوام ورکړ شی څو دوی وکولای شی په ۲۰۱۴-۲۰۱۶ کې د دغو چاودیدونکو توکو سره د مبارزې عملیات او ددغو توکو د خنثی کولو او پاک کولو عملیات په اغیزمنه توګه رهبری ، کنټرول او اجرا کړي.
- دغو هڅو ته دوام ورکړ شي چې د ټولو نړیوالو پوځی اډو او نور هغه ټړل شوې سیمې چې د ایساف د عملیات د پیل څخه راپدیخوا پکښې ډزی شوی دی نقشی برابر شی ، د غه سیمې په نښه شي او ناچاودیدونکې توکې پاک شي.
- د افغان حکومت په همغږی سره د هغو عملیاتو بیا کتنه او څیړنه وشي چي د نړیوال امنیتي او استخباراتي ځواکونو په ګډون سره ملکي تلفات پیښ شوی دی او داسی مناسب اقدامات تر لاس لاندی ونیسي څو حساب ورکونه ، د عملیاتی فعالیتونو ښه والی او جبران خساره پکی تضمین شی.